نصیر سپند ۲۰۱۰/۰۷/۲۸م

# دافغانستان د ملي وحدت دولسی تحریک، او دافغانستان دملی گوند

## له خوا د یو ځای کیدو دپاره د انسجام د واکمن کمیسیون ګډه اعلا میه

دافغانستان په تیر تاریخ کې جوته شویده چې زمونږدخلکو – کورنیو او بهرنیو دښمنانو تل هڅه کړې تر څو دهیواد د وروسته پاتې والي، دخلکو دبې علمی او دیو شمیر واکمنانو دبې کفایتی اوبې عدالتی څخه په ګټې اخستلو سره دخپلو توطیو دپلې کیدو او دافغانانو د ایل کیدو لپاره له مختلفو لارو چارو نه کار واخلې او افغانان دومره کمزوري کړې چې بلاخره دخپلو ملي نوامیسو ګټونه دفاع او ځواکمنی له لاسه ور کړي او ونکړای شی چې دبهرنیانو دتیری او لاسو هنې مخه ونیسی. تر ټولو غټه تو طیه دافغانانو په خپل مینځ کې ویشل دي چې بهرنیان یې دکورنیو تړلو کسانو پواسطه دقوم، ژبې، مذهب اوسیمی پر بنسټ سرته رسوي تر څو افغانانو نه دا وړتیا واخلې چې په خپل هیواد کې تل پاتې سوله او ثبات منځ ته راولې او په ګډه دپرمختګ او ترقی کاروان پر مخ بوزي او ځان په سیمې اونړی کې دسیالو هیوادونو دخلکو سره سیال کړي.

دښکیلا ککرو ځواکونو ځوځلی هڅه وکړه چې افغانان په زور ځانته ایل کړې خو کله چې داسي ونه شول نو د وخت انګریزی زبر ځواک دافغانستان ویشلو ته ملاوتړله او په (۱۸۹۳) عسیوی کا ل کې یې دډیورنډ دکرغیړنې کرښې په ایستلو سره افغانان غمجن او دپښتنو سینه دوه ټوټې کړه، تر څو د افغان قهرمان ملت نه دا وړتیا واخلې چې دبهرنې تیري او لاسو هنو مخه ونیسي ویشل شوي افغانستان له همدغه پیل نه تل دیو شمیر بهرنیو هیوادونود دسیسو دسترې لوبې میدان ګرځیدلی و او په لوی لاس د وروسته پاتې او فقیر هیواد په څیر ساتل کیده. او هرکله چې دي پر هیواد میینو افغانانو، دوروسته پاتېوالي او فقر نه دخپل هیواد او خلکو د خلاصون هڅه کړیده، همد غو – بهرنیو هیوادونو په یوې او بلې پلمې ددغو هڅو مخه نیولې او دخلکو په ګټه هرډول بدلون یې ځپلي او زمونږ هیواد یې بیرته دبې ثباتی او بدمرغیو سره مخامخ کړیدې، چې غوره بیلګې یې داعلیحضرت غازی امان الله خان د واکمنی پر خلاف توطیه او پرافغانستان باندی د پخوانی شوروی اتحاد د (۱۳۵۸)کا ل دجدی دشپږمې نیټې تیری و چې دوخت سیاسی نظام یې ړنګ او زمونږ په هیواد کې دبهرنیانو او په تیره بیا د ګاونډیو هیوادونو دلاسوهنیو زمینه لا برابره کړه، چې نن ورځ ددې لاسوهنو ابعاد لا پسې پراخه او ریښې یې ژوری شویدی چې دوژنو، مها جرتونو او تاوتریخوالی لمبې یې ورځې نه بلې ته تودیږي.

د تاریخ په دې حساس پړاو کې چې زمونږ دا موجوده دولت دومره کمزوری اولړزانده دی چې، نړیوالو ځواکونو د مرستې پرته دخپلې خپلواکی،ملي حاکمیت،ځمکنی بشپړتیا، ملي ګټو، دقانون د حاکمیت او هیوادوالو دامنیت دساتلو وس نلري، نو دا د هر سالم او پر هیواد مین افغان ملي وجیبه او مسولیت بلل کیږي چې تر خپلو شخصی او ګروپې ګټو او مخالفتونو تیر شي او دلوړو ملي ګټو نه ددفاع په خاطر دیووالی په روحیه، یو اوبل ته دوروری لاسونه سره ور کړې او دروان بحران او تباهی څخه د هیواد او هیوادوالو دنجات او خلاصون په مبارزه کې خپل رعنده او مثبت نقش ولوبوي.

پورتنیو اهدافو ته درسیدو په موخه زمونږ دریو ګوندونو(دافغانستان د ملي وحدت دولسی تحریک، دافغانستان ملي یو والی ګوند او دافغانستان ملی ګوند) دمشرتابه هیات دایوه تاریخي اړتیا وبلله چې په خپلوکې سازماني وحد ت و کړي او دهیواد ټولوملی دموکراتو ګوندونو، سیاسی کړیو، ټولنیزو سازمانونو او ملی شخصیتونو ته هم بلنه ورکوو چې ملي خپلواکی، ملي واکمنی ځمکنی بشپړتیا، ملې واکمنی ځمکنی بشپړتیا، تلپاتې سولې، اقتصادی پرمختیا، ددموکراسی دودې او ملي ګټو په موخه په یو واحد سازمان کې سره راټول او خپل هیواد او افغان نجیب ملت ته دروان کړکیچ څخه نجات ورکړي.

زمونږګوند داهم خپله ملي وجیبه بولی چې سر له همدانن څخه ټولو پر هیواد میینو افغانانو ته چې دخپل هیواد ځمکنی بشپړتیا، او ملی حاکمیت سره مینه لري او دهغو دخوندي ساتلو او قانون ترسوری لاندی ژوند کولوته ژمن دي، بلنه ور کړي چې په یوه پراخه ملي جبهه کې زمونږ سره برخه واخلي، تر څو دا هیواد دسولې اوترقی خواته چټک ګامونه پورته کړې زمونږ ګوند پورتینو ملی موخو ته درسیدو په غرض دا لاندې ټکې دخپلې عمومی کړنلارې دلنډیز په توګه تصویبوي او دهغو دپلې کیدو دپاره دقانون په چوکاټ کې نه ستړې کیدونکی سیاسی سوله ییزه مبارزه کوي:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

۱- زمونږ دیوالی په نتیجه کې مینځه راغلی گـوند به په هیواد کې دیو واحد، خپلواک، سوله غوښتـو نکی، له فساد نه پاک او په ریښتینی تـوگه دملـي اوسیا سی پلوه دیـوقو ي، باثباته او سرتاسري دولت دجوړیدو لپاره هلې – ځلې کوي.

۲- زمونږ گوند به د ټولو سوله غوښتو نکو- ملی دموکراتکو شخصیتونو او ډلو سریـو ځای د عادلانه تلپاتې ســولې په ټینگیدو کې فعاله برخه واخلـي او د تپل شـوې جگــړې د سختید و او اوږدیدو سره چې د ډیرو بیگناه خلکـــو دمرگ ژوبلې او کډاوونو سبب کیـږي په کلکه مخالفت کوي اوغواړی پرتې ستونزی د ښکیلو خواو تر منځ دخبرو او اترو له لارې اوارې شي.

۳- دمعا صر افغانستان دخپلواکی، ملی واکمنی او ځمکنی بشپـړتیاد ساتنې لپاره، په هیـــواد کې د ټولو شته قـومونو ترمینځ ټینگ یو والــی ته ضــرورت دی. زمونږ گـوند به هر هغه چا سره چې ددې یو والي دکمزورتیا په خاطر د قو مونو ترمینځ ددښمنی او بیلوالې ته لمن وهي،په کلکه مخالفت کوي او د ټولو افغانانو ټینگ ملي یو والی دساتلو لپاره، دهلو ځلو ژمنه کوي.

٤- ددولت اوسنی اداره دسمت، ژبی، قوم، مذهب، حزب او کورنی پالنی ناوړه دود، د ملې اونړیوال اعتبار څخه اچولې ده او خپلې ورسپال شوې قانونی ذمه واری په ښه ډول سرته نه شي رسولای، نو ځکه په هیواد کې باید دداسې یوې سالمې او هر ډول فساد نه پاکې ادارې د جوړیدو لپاره هلې ځلې او مبارزه وشي، تر څو افغانان د داسې دولتې اداري خاوندان شي چې دخپلو ملې اونړیوالو ذمه واریو نه په بریالیتـوب سره را ووځي. زمونږ گـوند به په دې اړوند له هیچ ډول قانوني هلو- ځلو نه ډډه نه کوي.

٥- زمونږ گوند پدی باور دی چې په هیواد کې سیاسی واکمنی، باید کله هم دپوځی زور له لاری تر لاسه نشي.

٦- په اقتصادي برخه کې زمونږ گـوند دخصوصی مختلط او دولتی سکتور د متوازنی ودې ملاتړ کوي.

۷- دمخدره موادو دکرکیلې او قاچاق دافغانستان نړیوال اعتبار ته زیات زیان رسولی اوتر اوسه یې له یو میلیون نه زیات افغان ځوانان داعتیاد او تدریجي مرگ سره مخا مخ کـړیدی، چې داکار دافغان ملت پر وړاندې دنړیوالې مافیا او کورنیو قاچاقبرانو ستره توطیه او لوی جرم گڼل کیږی. زمونږ گوند دخلکو دپوهاوي او پر اړوند افغان او نړیوالو چارواکو د فشار راوړلو له لیاري دمخدره موادو دکاروبار پرضد مبارزه، خپله ملي دنده بولي.

۸- زمونږ گوند، دټولنیز عدالت او دسالمی اقتصادی ودی د تامین دپاره او همـدارنگه دهر ډول زور،ظلم،فشار او گواښ،دتروریزم،ویرې اچونی،دبډو او هر ډول فساد پر خلاف مبارزه کوی او په دولتي جوړښــت کې دکار وړتیا،لیاقت او دروابطـو پـرځای ضـــوابطـو ته ترجیح ورکوي او ،دښوونې او روزنې متوازنی ودې، دښځو دحقونونه داســـلام د مقدس دین دارزښتـــونو سره په مطابقت کې دفاع، دټولنیزو خدمتونو د تر لاسه کولو او دقانون د حاکمیت دتامینو لو دپاره خپلــې هڅې جارې ساتي.

۹- زمونږ گوند دملي گټو او دملي او اسلامي هویت د خوندیتوب په پام کې نیو لو سره دنړی د ټولو هیوادونو، اســلامي هیوادونو او په تیره بیا د گاونډیو هیـــوادونو سره په ســوله کــې دگډ ژوند، یو دبل په کورنیو چاروکې دنه لاسوهنی او دیوبل گټواو ملي نوامیســو ته د متقابل درناوي پر اصولو د ولاړواړیکو دپراختیا او ودې غو ښتو نکی دی.

۱۰- زمونږ گوند به دملگرو ملتونو دمنشور، دبشر دحقوقو اعلامیې، نړیوالو کنوانسیـــــونونو او ټولو منل شو و اصولو ته درناوی کوي او د نړیوالې ټولنې دیوې برخې په توگه به په افغانستـان کې دپورتنیو نورمونو او داسلام دمقدس دین دارشاداتو سره سم دسمسورې، ابادۍ، غوړیدلې او متمدنې ټولنې دجوړیدو په لارکې هلې ځلې خپله ملي، اسلامي او تاریخي دنده گڼی.

۱۱- زمونږ گوند د ډیورند د تحمیلی کرښې دستونزې دعاذلانه او سوله ایزي اواری غوښتونکی دی.

۱۲- زمونږ گوند په اوسنیو شرایطو کې چې د مرکزی دولت ستنی لړزانده دي، دیو قوی مرکزی دولت دجوړیدو پلوي دی.

ومن الله التوفیق

دچنگا ښ (١٤) مه ١٣٨٩ کال د کابل ښا ر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ